بسم الله الرحمن الرحيم

أَلحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينْ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى
سَيِّدِالْمُرْسَلِينْ وَعَلَى آلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِينْ.

# د لوړو زده کړو وزارت

پسرلنی فصلنامه- دویم کال، درېیمه ګڼه - ۱۴۰۳ هـ ش/ ۱۴۴۵هـ ق / 2024 م


د امتیاز خاوند

د لوړو زده کړو وزارت

مسؤل مدير

حافظ انجنير روح الله روحاني

د تحرير هيئت

عبدالنافع زاهد

عبدالحنان عزيزي

حمد الله محب زی

ایډیټوران

جاوید حکمت

مشعل پويا

خبریالان

کاوون رمز

محب الله اميري

الفت الله حليم

ترتیب

محمد اسحاق معصومي

ډیزاینران

عنايت الله حنيفي

عبدالهادي قديري

انځورګران

احمد سير معرفت

سيد ناصر وفامل


## په دې ګڼه کې


**لومړی برخه**

**د لوړو زده کړو سرپرست وزير د سفرونو، غونډو او لیدنو راپورونه**

**دويمه برخه**

**د معینانو د سفرونو، غونډو او لیدنو راپورونه**

**درېيمه برخه**

**د مرکزي رياستونو د رئیسانو د غونډو، سفرونو او لیدنو راپورونه**

**څلورمه برخه**

**په پسرلي فصل کې د لوړو زده کړو وزارت لاسته راوړنې**



mohe.gov.af

mohe.af

afmohe

Af_mohe

af_mohe

af_mohe

@afmohe

info@mohe.gov.af

+93(020)2500 325

څلورمه کارته- کابل - افغانستان

# لومړی برخه

## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د سفرونو، غونډو او لیدنو راپوورونه

# لړلیک


سریزه...... ۱
د امارتي تحصیلي بنسټونو د څېړنو او علمي مرستیالانو لپاره درې ورځنی ورکشاپ دایر شو...... ۲
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر کاپیسا ولایت ته سفر وکړ...... ۳
شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی دایر شد...... ٤
له کابل پولي تخنیک پوهنتون څخه ۷۵۹ انجنیران فارغ شول...... ۵
د دیني جامعاتو او تخصصاتو ریاست درې ورځني سمینار ته عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله وینا وکړه...... ٦
سرپرست وزارت تحصیلات عالی از پوهنتون کندهار دیدن کرد...... ۹
لوړو زده کړو وزارت د بغلان ولایت سیلاب ځپلو سیمو ته د بېړنیو روغتیایي مرستو لپاره مجهز صحي ټیم ولېږه...... ۱۰
نتایج رقابت های کتاب خوانی محصلان پوهنتون ننگرهار اعلان شد...... ۱۰
د کابل طبي علومو پوهنتون له طب پوهنځي څخه ۸۳ تنه محصلان فارغ شول...... ۱۱
۱۲۰ تن انجنیر از پوهنتون تخنیکی غزنی فارغ شدند...... ۱۲
د خصوصي لوړو زده کړو کمیسیون ناسته وکړه...... ۱۳
سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ولایت بلخ سفر کرد...... ۱۳
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر تخار پوهنتون څخه لیدنه وکړه...... ١٤
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د پروان پوهنتون له مشرتابه سره وکتل...... ۱۵
کنفرانس ملی جاذبه های گردشگری افغانستان در پوهنتون بدخشان آغاز شد...... ۱٦
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون له بشپړو شویو پروژو څخه لیدنه وکړه...... ۱۷
سرپرست وزیر تحصیلات عالی از پوهنتون اسلامی بین المللی افغان دیدن کرد...... ۱۷
لوړو زده کړو وزارت د هېواد دیني مدرسو او پوهنتونونو ممتاز محصلان او فاضلان وستایل...... ۱۸
سرپرست وزارت تحصیلات عالی با رئیس جمعیت هلال احمر اندونیزیا دیدار کرد...... ۱۹
سرپرست وزارت تحصیلات عالی عازم شهر کازان کشور فدراتیف روسیه شد...... ۲۰
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د تاتارستان هېواد د علماوو شورا له رئیس سره وکتل...... ۲۰
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په کازان ښار کې له مېشتو افغان محصلینو سره وکتل...... ۲۱
سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دومین کنفرانس بین المللی وزیران تحصیلات عالی و معارف سخنرانی کرد...... ۲۲
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د تاتارستان هېواد د کازان ښار له پولي تخنیک پوهنتون څخه لیدنه وکړه...... ۲۳

# سریزه

لـوړو زده کـړو وزارت د غـوره تحصـیلي خـدمتونونو وړانـدې کولـو پـه موخـه د دینـي او مـلي ارزښـتونو پـه پـام کـې نیولـو سره د روان ۱۴۰۳هــ.ش کـال د وري، غـویي او غبرګـولي پـه میاشـتو کـې پـه مختلفـو برخـو کـې مهـم فعالیتونه ترسره کړي دي.

د لـوړو زده کـړو وزارت یـوه سـتره موخه پـه هېـواد کـې د تحصـیلي بنسـټونو پراختیـا او پرمختـګ دی او همـدې مـوخې تـه پـه کتـو د دغـه وزارت بېلابېـل پـلاوي پـه مسلسـله توګـه د هېـواد لـه امارتي او خصـوصي تحصـیلي بنسـټونو څارنـه کـوي، سـتونزې او اړتیـاوې یـې پـه نښـه او د حـل لپـاره یـې د لـوړو زده کـړو وزارت لـه مشـرتابه سره شریکوي.

د لـوړو زده کـړو وزارت مشـرتابه پـلاوی خپـل مسـؤلیت او ټـولنې تـه د تحصـیلي خـدمتونو وړانـدې کولـو لپـاره د هېـواد تحصـیلي بنسـټونو سـتونزو او غوښـتنو تـه رسـیدنه کـوي او هغـه څـه یـې کـړي دي، چـې د لـوړو زده کـړو د پرمختـګ لامـل کېـږي. د بېلګـې پـه توګـه تحصـیلي بنسـټونو تـه د اعتبـار ورکولـو سـند ورکـړه، د ظرفیـت لـوړونې پروګرامونـو جـوړول، مـلي کنفرانسـونه، د ممتـازو محصـلینو او فاضـلانو سـتاینه، د علـماء کرامـو د عـالمیې دورې (ماسـټرې) اسـنادو ارزونـه، د روزنیـزو پروګرامونـو جـوړول، اصـلاحي سـمینارونه، پـه تحصـیلي بنسـټونو کـې د ودانیـو تـرمیم او جوړونـه، لـه داخـلي او بهرنیـو پوهنتونونـو سره د مـلي او نړیوالـو هـوکړو لیکونـو لاسـلیکول، د تکـړه او مسـلکي علمـي کـادرونو ګمارنـه، د څېړنیـزو فـارمونو رامنـځ تـه کـول او د علمـي څېړنـو مرکزونـو ایجـاد یادولی شو.

لـوړو زده کـړو وزارت هېوادوالـو تـه د تحصـیلي خـدمتونونو تـر څنـګ، د خپلـو تدریسـي روغتونونـو لـه لارې د خلکـو لپـاره روغتیـایي خدمتونـه هـم وړانـدې کـوي. لـه نېکـه مرغـه پـه تدریسـي روغتونونـو کـې تکـړه او بـا تجربـه علمي کادرونه توانېدلي چې د زړه او نورو برخو پېچلي عملیات ترسره کړي.

د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر شـیخ الحـدیث مولـوي نـداء محمـد نـدیم د تحصـیلي بنسـټونو د څـارنې پـه موخـه مختلفـو ولایتونـو تـه د سـفر تـر څنـګ، د روان کـال د غبرګـولي میاشـتې پـه ۲۰ مـه نېټـه د لـوړو زده کـړو او پوهنـې وزیرانو په دویمه نړیواله غونډه کې د ګډون په موخه د فدراتیف روسیې کازان ښار ته سفر کړی و.

دغــه راز د لــوړو زده کــړو وزارت مشــرتابه پــلاوي، د تحصــیلي بنســټونو د تجهیــز او څواکمنتیــا پــه موخــه د مختلفـو هېوادونـو لـه سـفیرانو او مؤسسـاتو سره لیـدنې کـړې، د هغـوی د مرسـتو او همکـاریو پـام یـې رااړولـی دی.

درنـو لوسـتونکو تاسـو کـولی شـئ پـه دې فصـلنامه کـې د لـوړو زده کـړو وزارت د مقـام، مرکـزي ادارو او پوهنتونونـو اړونـد د ناسـتو، کنفرانسـونو، سـمینارونو او لیـدنو مهـم خبرونـه ولـولئ او پـه یـادو دریـو میاشـتو کـې په جزیاتو د دغه وزارت له فعالیتونو او لاسته راوړنو خبر شئ.

په درناوي

د اطلاعاتو، نشراتو او عامه اړیکو ریاست




# د امارتي تحصيلي بنسټونو د څېړنو او علمي مرستيالانو لپاره درې ورځنۍ ورکشاپ دایر شو

د امارتي تحصيلي بنسټونو د څېړنو او علمي مرستيالانو لپاره د کاري فعاليتونو د ښه والي او همغږۍ په موخه درې ورځنۍ ورکشاپ دایر شو.

په دغه ورکشاپ کې، چې د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تألیف او ژباړې رياست په نوښت جوړ شوی، د يادو مرستيالانو تر منځ د دندو لایحو پر تفکیک، په تحصيلي بنسټونو کې د لابراتوارونو او کتابتونو د تجهيز څرنګوالي، کاري پلانونو، د څېړنو لپاره د بودیجې مشخصول، د مسؤليتونو وېش، د څېړنو معاونيتونو تشکیلاتي جوړښت او په هېواد کې د علمي څېړنو د ودې په اړه بحثونه وشي.

د ياد ورکشاپ په پرانيستي مراسمو کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم څېړنې د يوې ټولنې د پرمختګ لومړنی ګام ياد کړ او ويې ويل چې موږ د څېړنې په وسيله د مدرنې نړۍ ديني او د ژوند نورې ستونزې حل کولی شو.

نوموړي د امارتي تحصيلي بنسټونو علمي او څېړنو معاونين خپلو مسؤليتونو ته متوجه کړل او د کاري اسانتياوو برابرولو ډاډ يې ورکړ.

همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه دغه ورکشاپ د څېړنو او علمي مرستيالانو لپاره د همغږۍ، تجروبو شريکولو او په پوهنتونونو کې د علمي څېړنو د پراختيا او غني کولو لپاره غوره فرصت وباله.

همدا راز د تحقيق، تألیف او ژباړې رئيس دوکتور حميدالله مزمل، د علمي معينيت سلاکار پوهنوال غلام دستګیر خاورين په خپلو خبرو کې د علمي تحقيقاتو پر ارزښت خبرې وکړې او د ورکشاپ د اجنډا په اړه يې معلومات ورکړل.

د يادونې وړ ده چې دغه ورکشاپ به درې ورځې دوام وکړي او د علمي او څېړنې معاونينو تر منځ به پکې ګروپي کارونه وشي.

د ا.ا.ا له راتګ وروسته په هېواد کې علمي څېړنو ته ځانګړې پاملرنه شوې او په ۲۵ پوهنتونونو کې د څېړنې معاونيتونه ايجاد شوي دي.

۱۵/۹/۱۴۴۵هـ.ق ۶/۱/۱۴۰۳هـ.ش ۲۵/۳/۲۰۲۴م



# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د البیروني پوهنتون په فراغت غونډه کې ګډون وکړ

د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر کاپیسـا ولایـت تـه د خپـل رسـمي سـفر پـه تـرڅ کـې د البیـروني پوهنتـون د طـب پـوهنځي محصـلانو پـه فراغتغونـډه او علمـي شـورا کې ګډون وکړ.

په پیل کې د البیروني پوهنتون په علمي شورا کې د پوهنتـون مـشرتابه پـلاوي او اسـتادانو سرپرسـت وزیـر تـه د پوهنتـون د لاسـته راوړنـو، فعـالیتونو او سـتونزو پـه اړه معلومات ورکړل.

سرپرسـت وزیـر هـم د البیـروني پوهنتـون د مسـؤلینو فعالیتونـه او لاسـته راوړنـې وسـتایلې او د نیمـه کـاره پـروژو د تکمیـل، د لابراتوارونـو تجهیـز، کتـابتون غنـي کولو او نورو ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ.

وروسـته یـې د البیـروني پوهنتـون د طـب پـوهنځي شپاړسـمي دورې ۷۵ ډاکټرانـو پـه فراغتغونـډه کـې ګډون وکړ. نوموړي پـه یـادو مراسـمو کـې وویـل: «یوازې هغـه نظامونـه کامیـاب دي چـې د خپـل ملـت د دنیـا او اخرت په فکر کې وي.»

سرپرسـت وزیر لـه فـارغو شـویو ډاکټرانو څخه وغوښـتل چـې ماسټرې او دوکتـورا وکـړي، د هېـواد طبـي برخـه پـه پښـو ودروي او پـه د خپـل مسـلک لـه لارې پـه اخـلاص، تواضـع او ښـو اخلاقـو سره خـدمت وکـړي. دغـه راز یـې د کاپیسـا والي قـاري احسـان اللـه بریـال او البیـروني پوهنتـون مسـؤلینو پـه ملتیـا د یاد پوهنتـون لـه بـېلا بېلو برخو څخه لیدنه وکړه.

د یـادونې وړ ده چـې البیـروني پوهنتـون اوسـمهال ۹ پـوهنځي لـري، چـې ۴۵۰۰ محصـلین پکـې پـه زده کـړو بوخت دي .

۱۴۴۵هـ.ق، د شوال۱۹مه/ ۱۴۰۳هـ.ش، د ثور ۹مه
۲۰۳۴م، د اپرېل ۲۸مه



# شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی دایر شد

شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی به رهبری شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست این وزارت دایر شد.

در آغاز سرپرست وزارت تحصیلات عالی اعضای شورای رهبری را متوجه کارهای شان نموده از آنان خواست تا با استفاده از تجربه های سال گذشته در کار و فعالیت های امسال شان بهبود، قاطعیت و شفافیت بوجود آورند.

سپس اعضای شورا مطابق آجندا، روی موضوعات پلان تطبیقی ریاست نظارت و ارزیابی، چاپ فورم های ارزیابی اسناد دوره عالمیه، پروپوزل مطبعه وزارت تحصیلات عالی، مجله و سایر موضوعات چاپی، ارتقای ظرفیت لیلیه محصلین و یک سلسله موضوعات دیگر بحث کردند که فیصله های لازم در رابطه صورت گرفت.

شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی مرجع باصلاحیتی است که در آن هیئت رهبری وزارت تحصیلات عالی، رئیس جامعات وتخصصات دینی، رئیسان ادارات مرکزی و پوهنتون های مرکزی عضویت دارند.

۲۰ شوال ۱۴۴۵هـ.ق/ ۱۰ ثور ۱۴۰۳ هـ.ش
۲۹ اپریل ۲۰۲۴ م






# له کابل پولي تخنیک پوهنتون څخه ۷۵۹ انجنیران فارغ شول

له کابل پولي تخنیک پوهنتون څخه د ماسټرۍ او لیسانس په کچه ۷۵۹ انجنیران فارغ شول.

په یاده غونډه کې چې د ا.ا.ا لوړو پوړو مسؤلینو ګډون کړی وو، د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر وویل چې د ا.ا.ا په مختلفو برخو کې مسلکي کادرونو ته اړتیا لري. هغه زیاته کړه چې نظام به د خدمت زمینه ورته برابروي او ملاتړ به یې کوي.

دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم په یادو مراسمو کې له فارغو شویو محصلینو څخه وغوښتل چې خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړي، ماسټري او دوکتورا برنامو ته شامل شي او د خپل مسلک له لارې هېواد ته خدمت وکړي.

نوموړي زیاته کړه چې د ا.ا.ا د خپلو فارغو شویو انجنیرانو او علمي کادرونو د ظرفیت لوړونې او کار زمینې برابرولو په فکر کې دی او ویې ویل: «په نړۍ کې یوازینی کامیابه نظام هغه دی چې امیر او مشر یې د رعیت د دنیا او اخرت په فکر کې وي او دا هغه څه دي چې اسلامي امارت په عمل کې ثابت کړې دي».

همداراز د امربالمعروف او نهی عن المنکر سرپرست وزیر شیخ محمد خالد حنفي د اسلام زرین تمدن ته په اشارې سره وویل چې اسلام تر نورو ادیانو زیات تخنیک علم ته ارزښت ورکړی دی.

همدا راز د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه، د کابل پولي تخنیک پوهنتون رئیس پوهنوال عبدالرشید اقبال او نورو وینااوالو فارغو شویو انجنیرانو او د هغوی کورنیو ته د مبارکۍ تر څنګ، په خپل مسلک کې لا زیاتې مطالعې، مهارت لوړولو او ظرفیت لوړونې ته راوبلل او ترې ویې غوښتل چې په اخلاص د خپلو خلکو او هېواد خدمت وکړي.

د یادونې وړ ده چې د کابل پولي تخنیک پوهنتون له ۷ پوهنځیو او ۱۷ څانګو څخه ۲۲۲ د ماسټرۍ او ۵۳۷ د لیسانس په کچه محصلین فارغ او د هېواد ودانولو لپاره تولنې ته وړاندې شول.

۱۴۴۵هـ.ق، د شوال۲۱مه/ ۱۴۰۳هـ.ش، د ثور ۱۱مه
۲۰۳۴م، د اپرېل ۳۰مه

# د دیني جامعاتو او تخصصاتو ریاست درې ورځني سمینار ته عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله وینا وکړه



د لوړو زده کړو وزارت د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست «د دیني جامعاتو او تخصصاتو چارو د تنظیم او همغږۍ» تر عنوان لاندې درې ورځنی سمینار د عالیقدر امیرالمؤمنین صاحب حفظه الله په مهمو ویناوو او توصیو سره پای ته ورسېد .

د لوړو زده کړو وزارت د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست رئیسانو، مرستیالانو او استادانو لپاره «د دیني جامعاتو او تخصصاتو چارو د تنظیم او همغږۍ» تر عنوان لاندې درې ورځنی سمینار د شنبې په ورځ، ۱۵ / ۲ / ۱۴۰۳ نېټه، د لوړو زده کړو وزارت محترم وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب په وینا سره پرانیستل شو.

د لوړو زده کړو محترم وزیر په پیل کې د یاد سمینار پر اړتیا او موخو خبرې وکړې. دغه راز په سمینار کې د امارتي دیني جامعاتو په معیاري کولو، د غوره او مستعدو فاضلانو پر روزنې، د تدریس په منلو شویو مؤثرو تګلارو، د قضاء او افتاء پر اهمیت او د وړ فاضلانو د جذب تر څنګ په یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو هم په نوبت سره د ګډونوالو له لوري بیانونه او محاضرې ارائه شوې.

د دې تر څنګ په یاد سمینار کې د ابراهیم النخعي رحمه الله جامعې رئیس محترم قاضي عبدالصادق غزنوي صاحب، د جنوب غرب زون د تمیز د عالي ریاست رئیس او د سترې محکمې قضایي مرستیال شیخ مولوي سردار محمد صاحب او د مرکزي دارالافتاء رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالله منیر صاحب له لوري هغه موضوعات چې قاضیان او مفتي صاحبان په عملي ډګر کې ورسره ستونزې لري، په وضاحت سره وړاندې شول.

همدا راز د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جامعې د یو شمیر استادانو له لوري د ځینو مضامینو د تدریس مثالي طریقې د مکتبې (کتابخانې) مدیریت، د مقالې او علمي رسالې د

لیکلـو د اصـولو او تګـلارو پـه اړه هـم محـاضرې ارائـه کړل شوې.

د یـادونې وړ ده چــې د سـمینار پـه وروسـتۍ ورځ د مجلـس ټـول ګـډونوال د افغانسـتان اسـلامي امـارت د زعـیم، مشـفق او قـدرمن امیرالمـؤمنین شـیخ الحـدیث والتفسـیر مولـوي هبـة اللـه اخنـدزاده صـاحب حفظـه اللـه تعـالی ورعـاه پـه دیـدار مـشرف شـول او سـمینارهم د امیرالمـؤمنین صـاحب حفظـه اللـه تعـالی ورعـاه پـه مبـارکې او سـپېڅلې وینـا سره پـای تـه ورسـېد، چـې عمده او مهم ټکي يې په لاندې ډول دي:

١. علمـاء کـرام پـه مخلوقـاتو کـې اللـه تعـالی تـه خـوښ بنـده ګـان دي، د اللـه تعـالی څخـه بیریـدونکي بنـده ګـان او د انبیـاؤ علـیهم السـلام ورثـه دي، د اللـه تعـالی د دیـن سـاتونکي، د دیـن نافـذوونکي او د اللـه تعـالی لـه لـوري منتخـب کـړای شـوي کسـان دي، علـماء کـرام پـه خپلـه ټولـه ژنـده ګـې کـې د جهـاد پـه خـدمت کـې دي، دا علـماء کـرام دي چـې ۱۴۰۰ کالـه وروسـته يـې د رسـول اللـه صـلی اللـه عليه وسلم سنت سیرت او صورت ژوندي ساتلي.
٢. امیرالمـؤمنین صـاحب حفظـه اللـه ورعـاه پـه خپلـو خـبرو کـې پـه اخـلاص تأکیـد وکـړ او ویـې ویـل چـې په هر څـه کـې اخلاص ډېر مهم دی، تر څـو د دین او مـذهب صـحیح سـاتنه وشي، د دیـن خـادم جوړېـدل ډېـر زیـار غـواړي، دا چـې اوس تاسـو تـه زمینـه مساعده ده، تـر څـو د راتلونکـو نسـلونو سـالمه روزنـه وکـړئ، ستاسـو وظیفـه ډېـره قدرمنـه ده تاسـو علـماء کـرام مسـؤلیت لـرئ چـې فاضـلان او طالبـان خپلـو درسـونو تـه متوجـه کـړئ، صـحیح روزنـه یـې وکـړئ او پـه مدارسـو او جامعـاتو کـې فاضـلان د ټلیفـون څخه لېـرې وسـاتئ او پـه دې اړه مـو مدارسـو تـه هـم توصـیې لـیکلي چـې فاضـلان د ټلیفـون څخـه لیـرې وسـاتئ، ځکـه ټلیفـون د هغـوی د درس او مطالعي وخت ضایع کوي .
٣. د افتـاء مقـام زمـا پـه زړه کـې ډېـر عظـیم مقـام دی، افتـاء د دیـن اصـل دی، مفتـي صـاحب دی چـې خلکـو تـه دیـن ورښـیي حـلال او حـرام ورښـیي، کوښـښ وکـړئ مسـتعد او لائـق فاضـلانو تـه پـه تخصـص کـې داخلـه ورکـړئ، هغـه چـې دړې کالـه یـې تـدریس کـړی وي، لـه لـوېې دورې فـارغ وي بیـا يـې د افتـاء او قضـاء تخصـص تـه راولـئ. هغـه څـوک چـې مسـتعد نـه وي هغـوی تـه داخلـه مـه ورکـوئ او معذرت ورڅخه وغواړئ .
٤. زمـا وزیـران ښـه خلـک دي، همېشـه زمـا اطاعـت کـوي، زه تـرې ډېـر زیـات خوشـحاله يـم، اطاعـت، قـدر او عـزت يـې وکـړئ، ځکـه چـې اکـرام او اطاعـت تـر مشـر امیـر پـورې خـاص نـه دی، ټـول امـراء پکـې شامل دي .
٥. دا چـې د شخصـي تخصصـاتو زده کـړې معیـاري نـه وې او د تخصـص د اړتیـاو مطـابق يـې وړتیـا او امکانـات نـه درلـودل، نـو لـه د دې کبلـه مـو د هېـواد پـه زونونـو کـې هـم د تخصصـاتو جامعـات ایجـاد کـړل او د اړتیـا مطـابق مـو ټـول امکانـات پـه اختیـار کـې ورکـړل، تـر څـو لـه دې لارې وکـولای شـو د اسـلامي نظـام قضـایي او عـدلي برخـو کـې رجـال کـار وروزو او د خـدمت لپـاره يـې ټـولنې تـه وړانـدې کـړو، د یـادو جامعـــاتو او تخصصـــاتو دروازې د ټولـــو مســـتعدو فاضـلانو او اسـتادانو پـر مـخ خلاصـې دي. هغـوی کـولای شي د شرایطـو پـه پـوره کولـو سره د زونونـو د تخصـص پـه جامعـاتو کـې ګـډون وکـړي، مـوږ ورتـه تشکیل او اړین امکانات برابروو .
٦. امیرالمـؤمنین صـاحب حفظـه اللـه ورعـاه وویـل چـې علـماء بایـد خپلـو فاضـلانو او طالبـانو تـه د دوی د سـویې مطـابق درس ووایـي او هـر چـا تـه د هغـه د اهلیت او سویې مطابق سند ورکړي.
٧. علـــماء کـــرام بایـــد خلـــک د اســـلامي نظـــام پـــه فوائـــدو پـــوه کـــړي، د اختلافـــاتو او انحرافـــاتو مخنیـــوي او د مشـــرانو د بې اطـــاعتۍ څخـــه يـــې راوګرځـــوي.علماء بایـــد د امـــارت فـــرامین

خلکو ته واضح کړي، تول د فرامینو تطبیق او اطاعت ته وهڅوي، که چېرې تاسو زما فرمان د شریعت خلاف ولید په دېوال يې وولئ.

٨. له فتحې څخه وروسته مو ټولو مخالفینو افغانانو ته عفوه کړې ده، د ورور په شان زنده ګي ورسره کوو، دا زموږ خلک دي، پخوا مو هم د افغانانو وژل هدف نه وو اوس يې هم د تکلیفولو اراده نه لرو، پخوا چې کوم افغانان زموږ په لاس وژل شوي هغه د تستر له کبله وه، چې دوی د کافرانو مخته روان وو. د خلکو تقاضا هم دا وه له علماوو څخه، مګر کفار په دې خوښ دي چې موږ سره اخته شو، که موږ د انتقام لاره خپله کړي وای نو د کفارو مقصد به حاصل شوی و، کله چې د مخالفت خبره وشي هغوی ډېر ورته خوشحاله وي. په داسې حال کې چې موږ افغانانو او د دنیا ټولو مسلمانانو ته خصوصاً د فلسطین مسلمانانو ته ښه اراده لرو الله تعالی دې توفیق راکړي.

٩. کفري نړۍ دا غواړي چې دین او سیاست سره جلا کړي، په اسلامي هېوادونو کې هم علماء په سیاست کې برخه نه لري او که سیاست ته داخلیږي، نو بیا حتی د مدرسې په صحن کې هم د دین خبره نه شي کولای، سیاست تري غصب شوی دی، علماء باید سیاست لاسته راوړي ځکه دا د دوی حق دی، حضرت عمر رضي الله عنه امیرالمؤمنین، مفتي اعظم، سیاسي مشر او مدرس هم و. په هره اداره کې د علماؤ مسؤلیت دی چې د خلکو فکري او ذهني اصلاح وکړي، که علماء د خپل موقف نه کار واخلي ډېر خدمت کولای شي، که چیری دغه علماء د نظام تر شاه ودریږي، بیا به هېڅوک زړه ښه نه کړي چې د نظام په مقابل کې بغاوت وکړي تاسو یاست چې د دې نظام فرمانونه واضح او تطبیق کولای شئ.

د امیر المؤمنین صاحب حفظه الله له خبرو وروسته د سمینار د ګډونوالو څخه یو تن د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه جامعې استاد محترم شیخ عبدالمالک نیازي صاحب د ګډونوالو په نماینده ګی خبرې وکړې، نوموړي له امیر المؤمنین صاحب حفظه الله څخه مننه وکړه او داې يې ورکړ چې علماء کرام او شیوخ د دوی تر شاه ولاړ دي، فرامین يې په ورین تندي مني او په خپلو ځایونو کې يې د تعمیل لپاره کوښښ کوي. هغه په خپلو خبرو کې د دیني جامعاتو او تخصصاتو په رسالت خبرې وکړې او د فاضلانو داسې روزنه چې په علمي لحاظ قوي او په اخلاقي لحاظ امین وي، د یاد رسالت مهمه برخه یاده کړه او د تولنې د فکري سرحدونو ساتنه يې خپل مسؤلیت وګڼه.

مجلس د امیرالمؤمنین صاحب حفظه الله ورعاء د دعائیه په ویلو سره پای ته ورسېده. دا چې د ټولو ګډونوالو د لیدو تر څنګ د مصافحې او ستړي مه شې هیله درلوده، امیر المؤمنین صاحب حفظه الله ورعاه د ټولو ګډونوالو سره په ډېره محبت او خوښۍ سره په غېږ مصافحه او ستړي مه شي وکړه او له هغه وروسته يې ټولو ګډونوالو ته د مازدیګر د لمانځه امامت هم اداء کړ او له لمانځه وروسته يې رخصت واخیست.

۲۸ د شوال ۱۴۴۵ هـ ق

۱۸ د غويي ۱۴۰۳ هـ ش

۷ د مي ۲۰۲۴ م




# سرپرست وزارت تحصیلات عالی از پوهنتون کندهار دیدن کرد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی سفر کاری خویش به ولایت کندهار، با مسوولان پوهنتون کندهار و انستو دیدار کرد.

شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی حین دیدار از پوهنتون های یاد شده طی نشستی با مسوولان به آنان اطمینان داده گفت: « ا.ا.ا به علم تعهد دارد و این تعهد نمایشی نیست؛ بنا شما نیز باید مثل همیشه به کیفیت توجه کامل کنید تا نظام تحصیلی را مشترکا با کیفیت سازیم».

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان گفت که مسوولان در سطح وزارت همیشه با شما همکار هستند و وعده سپرد که برای حل تمام مشکلات تلاش خواهد کرد.

در همین حال مسوولان پوهنتون انستو و کندهار در جریان صحبت های شان از حضور و تشریف آوری سرپرست وزیر تحصیلات عالی خرسندی نشان داده، شماری از مشکلات و خواست های شان را با ایشان شریک کردند که از سوی سرپرست وزیر به آنان از حل این مشکلات و منظوری این خواست ها اطمینان داده شد.

مورخ: ۱۴۴۵هـ.ق، د شوال ۳۰/ ۱۴۰۳هـ.ش، د ثور ۲۰
۲۰۲۴م، د مې ۹

# لوړو زده‌کړو وزارت د بغلان ولایت سیلاب ځپلو سیمو ته د بېړنیو روغتیايي مرستو لپاره مجهز صحي ټیم ولېږه

د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر پـه لارښـوونه د دغـه وزارت تـر چـتر لانـدې د مرکـزي تدریسـي روغتونونـو یـو مجهـز پـلاوی، د وروسـتیو سـیلابونو لـه زیـانمنو سره د مرستې په موخه بغلان ولایت ته ولېږل شو .

د میونـد تدریسـي روغتـون رئـیس دوکتـور سیدالرسـول منګـل پـه مشرـی، یـاد مجهـز ټـیم لـه ځانـه سره درمـل او امبـولانس لـري، چـې پـه بېړنیـو حـالتونو کـې بـه د ټپیـانو د لېـږد او درملنـې لپـاره پـه مختلفـو سـیمو کـې لـه سیلاب ځپلو سره مرسته وکړي .

پـه پـام کـې ده چـې لـه سـیلاب ځپلـو سره بـه د مرسـتې لپاره نور مجهز ټیمونه هم واستول شي.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذولقعدې ۲مه/ ۱۴۰۳هـ.ش، د ثور ۲۲مه
۲۰۲۴م، د مې ۱۱مه

# نتایج رقابت های کتاب خوانی محصلان پوهنتون ننگرهار اعلان شد

سرپرسـت وزارت تحصـیلات عـالی در مراسـم اعـلان نتـایج رقابـت هـای کتـاب خـوانی «تعلـیم الاسـلام» محصلان پوهنتون ننگرهار شرکت کرد.

شـیخ الحـدیث مولـوی نـداء محمـد نـدیم سرپرسـت وزارت تحصـیلات عـالی طـی سـفر رسـمی بـه ولایـت ننگرهـار در مراسـم اعـلان نتـایج رقابـت هـای کتـاب خـوانی «تعلـیم الاسـلام» کـه میـان ۱۵۰۰ تـن محصـل پوهنتـون ننگرهـار راه انـدازی گردیـده بـود و همچنـان در مراسـم اهـدای تحـایف بـه محصـلان یـاد شـده شرکت کرد.

در ایـن مراسـم سرپرسـت وزارت تحصـیلات عـالی در حـالی کـه معـاون والـی ننگرهـار، رییس شـورای علـماء، هیئـت رهـبری پوهنتـون ننگرهـار و اسـتادان آن پوهنتـون نیـز حضـور داشـتند، محصـلان پوهنتـون یـاد شـده را بـه تحصـیلات شـان متوجـه کـرده بـه آنـان گفت کـه روی مفکـوره و عقیـده خـود قـایم بمانیـد و تحـت تاثیر افکار بیگانگان قرار نگیرید.

نـامبرده همچنـان در مراسـم یـاد شـده خطـاب بـه محصـلان گفـت: «گـروه هـای دیگـری را دنبـال نکنیـد،




اتحـاد خـود را حفـظ کنیـد زیـرا راز کامیـابی افغانسـتان در اتحاد آن می باشد».

قابـل یـاد آوری اسـت کـه ایـن رقابـت هـا چنـدی قبـل بـه هـدف افـزایش معلومـات دینـی محصـلان بـه ابتکـار ریاسـت انسـجام خـدمات و هماهنگـی محصـلان وزارت تحصیلات عالی راه اندازی گردیده بود.

در پایـان مراسـم متـذکره بـرای برنـده گـان ممتـاز ایـن رقابـت، از سـوی مسـوولان بلنـد پایـه تحـایف مختلـف از جمله کمپیوتر های لپتاپ اهدا گردید.

مورخ: ۱۴۴۵ ه.ق ۳ ذوالقعده/ ۱۴۰۳هـ.ش، ۲۲ ثور
۲۰۲۴م، ۱۲ مه




# د کابل طبي علومو پوهنتون له طب پوهنځي څخه ۸۳ تنه محصلان فارغ شول

په همدې موخه جوړې شوې غونډې کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم د کابل طبي پوهنتون محصلانو، استادانو او د محصلانو کورنیو ته مبارکي وویله او د طبابت علم په ارزښت یې خبرې وکړې هغه وویل: «د طبابت علم له دیني علومو وروسته تر ټولو مهم علم دی او دا د الله تعالی یوه ځانګړې پیرزوینه ده چې تاسو ته یې د طب په برخه کې علم درکړی».

هغه همدا راز وویل، چې هر ډاکټر، انجنیر، استاد او نور باید خپلې چارې د اسلامي شریعت مطابق پرمخ یوسي.

دغه راز د ښار او کور جوړونې سرپرست وزیر حمدالله نعماني محصلانو ته مبارکي وویله، د لوړو زده کړو وزارت کړنې یې وستایلې او له علم څخه د استفادې په اړه یې خبرې وکړې.

همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب او د دغه وزارت د محصلانو چارو معین مفتي محمد طاهر احمد محصلانو ته د خپلو زده کړو د دوام او د تخصصي پروګرامونو د تعقیب په اړه لارښوونې وکړې.

وریسې د کابل طبي علومو پوهنتون رئیس مفتي ډاکټر اسدالله نجات د طب په برخه کې د ابوعلي ابن سینا د ابتکارونو په اړه معلومات ورکړل .

په پای کې یادو فارغانو ته تصدیق پاڼې او ډالۍ ورکړل شوې.

۱۴۴۵ هـ ق د ذوالقعده ۵ مه/ ۱۴۰۳ هـ ش د ثور ۲۵ مه
۲۰۲۴ م د مۍ ۱۴ مه

# ۱۲۰ تن انجنیر از پوهنتون تخنیکی غزنی فارغ شدند




شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در مراسم فراغت محصلان پوهنځی های جیولوجی معدن و الکترو میخانیک پوهنتون تخنیکی غزنی اشتراک کرد.

در این مراسم که مسوولین ولایت غزنی و هیئت رهبری پوهنتون متذکره حضور داشتند، سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی صحبت های خویش فراغت محصلان را تبریک گفته خطاب به محصلان گفت: «آینده کشور وابسته به شما است، در آبادی و پیشرفت کشور تان با در نظر داشت مسوولیت های (دینی و ملی) سهم خویش را ادا نمایید».

موصوف همچنان در ادامه صحبت های خویش بیان داشت که رهبری نظام ا.ا.ا متعهد به ترقی و آبادی کشور بوده و در چهارچوب شرعیت اسلامی فعالیت ها و خدمات شان را در قبال مردم و وطن انجام میدهند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان راز کامیابی یک نظام را در حفاظت از دین و دنیای ملت خوانده بیان داشت که قانون و راهنمای ما کتاب مقدس الله است. در این راه ثابت قدم و استوار باشیم، نباید برای منافع دیگران راه مقدس خویش را تغییر بدهیم.

سپس هیئت رهبری پوهنتون متذکره و سایر سخنرانان صحبت کرده ضمن تبریکی به محصلان فارغ شده آنان را در راه آبادی و پیشرفت کشور تشویق کردند.

قابل یاد آوری است که از دو پوهنځی پوهنتون متذکره حدود ۱۲۰ تن انجینر از بخش های انکشاف معدن و برق فارغ و جهت خدمت به جامعه تقدیم شدند.

٦ ذوالقعده ۱۴۴۵ هـ.ق /۲٦ ثور ۱۴۰۳ هـ.ش
۱۵ می ۲۰۲۴ م

# د خصوصي لوړو زده کړو کميسيون ناسته وکړه

د لـوړو زده کـړو وزارت سرپرسـت وزيـر پـه مــشرۍ د خصوصي لوړو زده‌کړو کميسيون ناسته وشوه.

پـه پيـل کـې د لـوړو زده کـړو وزارت سرپرست وزير شيخ الحـديث مولـوي نـداء محمـد نـديم پـه يـاده غونـډه کـې، د خصـوصي تحصـيلي بنسـټونو د تحصـيلي چـارو پـر کيفيـت لوړونـه ټينـګار وکـړ او دغـه کميسـيون يـې د يـادو بنسـټونو د سـتونزو حـل او د چـارو منظمـوالي لپـاره مهم وباله.

وروسـته لـه اجنـډا سره سـم د کميسـيون د غـړو لـه لـوري د يـو شـمېر خـصوصي تحصـيلي بنسـټونو د پوهنځيـو او څانګو نوي ايجـاد غوښـتنو، لـه يـوه ځـای څخـه بـل ځـای تـه د لېـږد، د پوهنځيــو او څــانګو د نومونــو تعـديل، د امنـاء پـلاوي تائيـد او د هغـوی د غوښــتنو پــر شرايطــو بحثونــه او لازمــې پرېکــړې وشــوې او يــو شــمېر موضـوعات لـه تاييـد وروسـته د نهـايي پرېکـړې پـه پـار، عالي شورا ته ولېږدول شول.

د يـــادونې وړ ده چـــې د خصـــوصي لـــوړو زده‌کـــړو کميسـيون د يـادو بنسـټونو د سـتونزو حـل، پرمختـګ او معياري کولـو پـه موخـه جـوړ شـوی، چـې د لـوړو زده کـړو وزارت معــين صــاحبان، د مقــام ســلاکاران، د مرکــزي ادارو يـو شـمېر رئيسـان او د مرکـزي امـارتي پوهنتونونـو رئيسان يې غړيتوب لري.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذولقعدې ۱۱مه/ ۱۴۰۳هـ.ش، د ثور ۳۱مه

۲۰۲۴م، د مې ۲۰مه

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ولایت بلخ سفر کرد




سرپرسـت وزارت تحصـيلات عـالی طـی سـفری رسـمی بـه زون شـمال کشـور، بـا مسـوولان پوهنتـون بلـخ و جامعه دينی امام ابو يوسف (رح) ديدار کرد.

در ايـن ديـدار هـا شـيخ الحـديث مولـوی نـداء محمـد نـديم سرپرسـت وزارت تحصـيلات عـالی خواسـت هـا و مشـکلات آنـان را در قسـمت بهبـود امـور نهـاد هـای يـاد شده استماع کرد.

سرپرســت وزارت تحصــيلات عــالی همچنــان در ايــن ديـدار هــا در قسـمت معيــاری ســازی فعاليـت هــای شـفاخانه تدريســی پوهنتـون بلـخ و حـل مشـکلات بـه آنـان اطمينــان داده در راســتای بهـتر شــدن امـور بـه مســوولان يــک سلســله هــدايات و رهنمايــی هــای لازم کرد.

۱۳ ذولقعدة هـ ق ۱۴۴۵/ ۳ جوزا ۱۴۰۳ هـ ش

۲۳ می ۲۰۲۴ م

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر تخار پوهنتون څخه لیدنه وکړه






د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د هېواد شمال زون ته د خپل رسمي سفر پر دوام د تخار پوهنتون څخه لیدنه وکړه.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي ندا محمد ندیم په داسې حال کې چې د تخار والي او مرستیال والي هم شتون درلود، د تخار پوهنتون له کتابتون، درسي خونو، اداري دفترونو، پارکونو او نورو ځانګو څخه د لیدنې ترڅنګ د تخار پوهنتون له مشرتابه پلاوي سره هم وکتل.

همدارنګه په دې لیدنه کې د تخار والي او د والي مرستیال د خپلو کاري مسؤلیتونو په چوکاټ کې له تخار پوهنتون سره د همکارۍ ژمنه وکړه.

۱۴۴۵ هـ ق د ذوالقعدة ۱۴ مه/ ۱۴۰۳ هـ ش د جوزا ۴ مه
۲۰۲۴ د می ۲۴ مه

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د پروان پوهنتون له مشرتابه سره وکتل




د لوړو زده کړو سرپرست وزیر پروان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د پروان پوهنتون له مشرتابه او محصلینو سره وکتل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم د پروان پوهنتون مسؤلینو له لوري د دغه پوهنتون په اړه د روانو چارو، پرمختګونو، لاسته راوړنو، ستونزو او اړتیاوو راپور واورېد. نوموړي د یاد پوهنتون د مسؤلینو لاسته راوړنې وستایلې، د ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ او د چارو غوره والي په برخه کې یې لازمې لارښوونې ورته وکړې. دغه راز سپارښتنه یې ورته وکړه چې له لیلیې څخه د پاتې محصلینو ستونزو ته رسیدنه وکړي.

همدارنګه د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د پروان پوهنتون له محصلینو سره د هغوی په ټولګیو کې وکتل او د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل.

د یادونې وړ ده چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د هېواد شمالي ولایتونو ته په خپل رسمي سفر کې د بلخ، کندز، تخار او بدخشان پوهنتونونو څخه هم لیدنه وکړه.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذولقعدې ۱۷مه / ۱۴۰۳هـ.ش، د جوزا ٦مه
۲۰۲۴م، د مې ۲٦مه

# کنفرانس ملی جاذبه های گردشگری افغانستان در پوهنتون بدخشان آغاز شد



کنفرانس ملی تحت نام «جاذبه های گردشگری افغانستان» با اشتراک اعضای کابینه ا.ا.ا در پوهنتون بدخشان آغاز شد.

به این کنفرانس سه روزه (۱۰۸) مقاله علمی-تحقیقی از سوی نهاد های تحصیلی داخلی و خارجی ارسال گردیده است که (۴۰) مقاله درجه اول آن در این کنفرانس ارایه خواهد شد.

مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا طی صحبت های شان در این کنفرانس از برگزاری آن ابراز خرسندی نموده گفت: «جای خوشی است که کادر های علمی افغانستان زیبایی های افغانستان را به مردم افغانستان و جهان معرفی کرده و در رابطه به دیدن جاهای سیاحتی کشور معلومات می دهند».

شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی کنفرانس متذکره و مقالات مرتبط به آن را در راستای جلب گردشگران مهم خوانده گفت: «این کنفرانس و مقالاتی که در مورد جاذبه های گردشگری تحریر شده است، نتایج خوبی برای جوانان ما و همچنین گردشگران خارجی خواهد داشت».

همچنان قاری دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد روی فعالیت های وزارت اقتصاد پیرامون رشد صنعت سیاحتی در افغانستان، جلب جهانیان و در مورد تمدن و فرهنگ افغانستان صحبت کرد.



متعاقباً دوکتور لطف الله خیر خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی طی سخنانی خویش در رابطه به اهمیت کنفرانس متذکره صحبت نموده گفت که جاذبه های گردشگری افغانستان مانند معادن آن خام باقی مانده است؛ نیاز به کشف این جاذبه ها و تحقیق آن می باشد.

پس از آن مولوی نظر محمد نیازی رییس پوهنتون بدخشان نیز در مورد نیازمندی ها و ارزش برگزاری کنفرانس یاد شده گفت که برای برگزاری این کنفرانس، نیاز شدید احساس می شد، چون افغانستان جاذبه های گردشگری وسیعی دارد که نیاز به جلب توجه جهانیان احساس می گردید.

قابل ذکر است که ۱۰۸مقاله ارسال شده به این کنفرانس، پس از توحید و ترتیب با وزارتخانه های سکتوری که در حوزه گردشگری فعالیت می کنند شریک خواهد شد تا در راستای تهیه پالیسی ها و طرح های خویش از آن استفاده نمایند. همچنان در کنار دادن امتیاز مالی به استادان و نویسندگان، مقالات ذکر شده در حصه ترفیع استادان نیز حساب خواهد شد.

۱۴۴۵هـ.ق، ۱۷ ذوالقعده/ ۲۰۲۴م، ۲۵مه

۱۴۰۳هـ.ش، ۵ جوزا

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون له بشپړو شویو پروژو څخه لیدنه وکړه




د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون مشرتابه پلاوي په ملتیا، د دغه پوهنتون د فوټبال میدان، بخارخانې تعمیر، جمنیازیوم او پارکینګ بشپړو شویو پروژو څخه لیدنه وکړه.

نوموړي د یادو پروژو د لیدنې پر مهال د دغه پوهنتون د مسؤلینو خدمتونه وستایل او د نورو چارو د غوره والي لپاره یې لازمې لارښوونې ورته وکړې.

همدارنګه د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د یاد پوهنتون د ماسټرۍ برنامو له محصلینو سره وکتل او د محصلینو وړاندیزونه او نظرونه یې واورېدل.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذوالقعدې ۲۴/ ۱۴۰۳هـ.ش، د جوزا ۱۳

۲۰۲۴م، د جون ۲

# سرپرست وزیر تحصیلات عالی از پوهنتون اسلامی بین المللی افغان دیدن کرد



سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن دیدار با هیئت رهبری پوهنتون اسلامی بین المللی افغان از روند تدریس این پوهنتون دیدن کرد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دیدار با هیئت رهبری پوهنتون اسلامی بین المللی افغان بیان داشت که: «الحمد لله پوهنتون اسلامی بین المللی افغان رو به پیشرفت بوده و زمان آن نزدیک است که پوهنتون اسلامی بین المللی افغان در سطح دنیا در جمع پوهنتون های مهم قرار گیرد».

موصوف در رابطه به ارایه خدمات بهتر تحصیلی به مسوولین پوهنتون مربوطه رهنمایی های لازم نمود.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان از جریان تدریس این پوهنتون نیز دیدن نموده، با محصلان آن پوهنتون از نزدیک ملاقات مشکلات، پیشنهادات وخواست های آنان را استماع کرد.

۲۵ ذوالقعده ۱۴۴۵هـ.ق/ ۱۴جوزا ۱۴۰۳هـ.ش

۳ جون ۲۰۲۴م

# لوړو زده کړو وزارت د هېواد دیني مدرسو او پوهنتونونو ممتاز محصلان او فاضلان وستایل




د هېواد ټولو امارتي تحصیلي بنسټونو، دیني جامعاتو او مدارسو فاضلان او محصلان د ا.ا.ا لوړ پوړو مسؤلینو په حضور کې د ډالیو په ورکړې سره وستایل شول.

په یاده ستاینغونډه کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي وویل چې د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو پیاوړتیا او پرمختګ د ا.ا.ا پالیسي ده. نوموړي یاد محصلان خپلو زده کړو ته لا وهڅول او د لوړو زده کړو وزارت د دغه پروګرام ستاینه یې وکړه.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم په وینا؛ نور هېڅوک د مدرسې د فاضل او د پوهنتون د محصل تر منځ واټن نه شي رامنځ ته کولی. نوموړي زیاته کړه: « د مدرسې فاضل یو لاس او د پوهنتون محصل بل لاس دی او دا دواړه لاسونه به په ګډه دا هېواد ابادوي.»

وروسته د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر مولوي خیرالله خیرخواه، د جهادي مدارسو عمومي رئیس شیخ الحدیث والقرآن مولوي عبدالواحد، د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه، مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب، او د کابل ولایت علماوو شورا رئیس خلیفه صاحب دین محمد او د محصلانو د انسجام او همغږۍ رئیس قاضي کلیم الله محمدي په خپلو خبرو کې یاد فاضلان او محصلان د قدر وړ وبلل او د هغوی هڅې یې وستایلې.

د غونډې په پای کې ممتازو محصلانو او فاضلانو ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا یو یو لپټاپ کمپیوټر او د افغان بیسیم مخابراتي شرکت له لوري لس لس زره افغانۍ نغدي ډالۍ ورکړل شوې.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذوالقعدې ۲۶/ ۱۴۰۳هـ.ش، د جوزا ۱۵
۲۰۲۴م، د جون ۴

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی با رئیس جمعیت هلال احمر اندونیزیا دیدار کرد

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی با محمد یوسف کالا معاون رئیس جمهوری پیشین اندونیزیا و رئیس جمعیت هلال احمر به هدف تقویت و همکاری های بیشتر در بخش تحصیلات عالی کشور دیدار کرد.

در آغاز شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی به رئیس جمعیت هلال احمر اندونیزیا و هیئت همراه شان خوش آمدید گفته، در رابطه به تحصیلات عالی صحبت کرده بیان داشت که امارت اسلامی افغانستان در تمام بخش ها علی الخصوص در بخش تحصیلات عالی علوم دینی و عصری توجه خاص دارد. الحمدلله بعد از فتح و پیروزی نظام امارت اسلامی در اکثر نهاد های تحصیلی برنامه های فوق لیسانس ماستری و دوکتورا فعال گردیده و عملاً تدریس برای این مقطع ها جریان دارد.

موصوف همچنان بر استفاده از داشته های یکدیگر در بخش تقویت تحصیلات عالی، اعزام کادر های علمی، اعطای بورسیه های تحصیلی تاکید ورزیده، بیان داشت که امارت اسلامی افغانستان با تمام کشور های اسلامی روابط نیک و حسنه داشته خواهان پیشرفت و ترقی تمام کشورهای اسلامی می باشد.

سپس محمد یوسف کالا رئیس جمعیت هلال احمر اندونیزیا از روابط نیک امارت اسلامی افغانستان با اندونیزیا اظهار قدردانی کرده بیان داشت که اندونیزیا خواهان همکاری های بیشتر در بخش های تحصیلات عالی با افغانستان است.

موصوف از اعطای بورسیه ها و اعزام استادان جهت تدریس در بخش های ماستری و دوکتورا و تجهیز لابراتوار های نهاد های تحصیلی به افغانستان وعده همکاری داد.

۱۴۴۵/۱۱/۲۷هـ.ق۱۴۰۳/۳/۱۶هـ.ش ۲۰۲۴/۶/۵م

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی عازم شهر کازان کشور فدراتیف روسیه شد



سرپرست وزارت تحصیلات عالی در ترکیب یک هیئت، به منظور اشتراک در دومین کنفرانس جهانی وزیران تحصیلات عالی و معارف، عازم شهر کازان کشور فدراتیف روسیه شد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در این سفر ضمن اشتراک در کنفرانس یاد شده، در رابطه به تحصیلات عالی افغانستان نیز سخنرانی خواهد کرد.

قرار است شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم در حاشیه این کنفرانس، با وزرای کشور های مختلف نیز دیدار نماید.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان در کنار اشتراک و حضور در کنفرانس یاد شده، از نهاد های تحصیلی آن کشور دیدار نموده، خواست ها و مشکلات محصلان افغان مقیم آن کشور را نیز استماع خواهد کرد.

قابل ذکر است که کنفرانس متذکره به تاریخ ۲۰ جوزای سال جاری آغاز می شود و این برای دومین بار است که سرپرست وزارت تحصیلات عالی افغانستان در آن اشتراک می کند.

۱ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۵ هـ ق / ۱۹جوزا ۱۴۰۳ هـ ش

۸ جون ۲۰۲۴ م

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د تاتارستان هېواد د علماوو شورا له رئیس سره وکتل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د فدراتیف روسیې د لوړو زده کړو او پوهنې وزیرانو دویمې نړیوالې غونډې په څنډه کې د تاتارستان هېواد د علماوو شورا له رئیس سره وکتل .

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم، په داسې حال کې چې د ا.ا.ا د پوهنې سرپرست وزیر مولوي صاحب حبیب الله آغا هم حضور درلود، د تاتارستان هېواد د علماوو شورا له رئیس سره د لیدنې پر مهال د امیرالمؤمنین حفظه الله تر واحد قیادت لاندې د ا.ا.ا د اسلامي نظام په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل: «اوسمهال افغانستان امن دی، شریعت پکې تطبیق کېږي او نظام له خلکو سره له شفقت او ترحم څخه کار اخلي.»

د تاتارستان هېواد د علماوو شورا رئیس شیخ رستم عبدالحی د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر سره پر لیدنې خوښي وښوده د خپل هېواد د روان حالت په اړه یې معلومات ورکړل او ویې ویل چې اوس دلته تر پخوا د مسلمانانو حالت ښه شوی، مسلمانان خپلې دیني ازدۍ لري او د علماوو شورا د حنفي فقې په رڼا کې خپلې چارې پر مخ وړي .

نوموړي د خپلو خبرو پر دوام وویل: «په مصر هېواد کې مې چې کله زده کړې کولې، له افغاني علماوو څخه مې د فقې کتابونه لوستي، زه د افغانستان علماء کرام د خپلو استادانو په حیث پېژنم.»

د یادونې وړ ده چې د لوړو زده کړو او پوهنې سرپرست وزیران د یوه پلاوي په ملتیا تېره ورځ «د لوړو زده کړو او پوهنې وزیرانو دویمه نړیواله غونډه» کې د ګډون په موخه د فدراتیف روسیې کازان ښار ته سفر وکړ.

هېره دې نه وي چې په یاده لیدنه کې د لوړو زده کړو او پوهنې سرپرست وزیرانو د تاتارستان هېواد د علماوو شورا رئیس او غړو ته دعوت ورکړ، چې افغانستان ته راشي او د اسلامي امارت نظام له نیږدې وګوري.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذوالحجې ۲مه / ۱۴۰۳هـ.ش، د جوزا ۲۰مه

۲۰۲۴م، د جون ۹مه

# د لوړو زده کړو سرپرست وزير په کازان ښار کې له مېشتو افغان محصلينو سره وکتل




د لوړو زده کړو سرپرست وزير د روسيې د لوړو زده کړو او پوهنې وزيرانو د نړيوال کنفرانس په څنډه کې د تاتارستان په کازان ښار کې له مېشتو افغان محصلينو سره وکتل.

په دې کتنه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي ندا محمد نديم په داسې حال کې چې د پوهنې سرپرست وزير مولوي حبيب الله اغا هم حضور درلود، د افغان استادانو او محصلينو لپاره د لوړو زده کړو وزارت له لوري رامنځ ته شويو اسانتياوو ته په اشارې سره وويل، چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د تحصيلي نظام پياوړتيا او پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه کړې او دغه وزارت ته يې کافي بوديجه په واک کې ورکړې، چې د هېواد د لوړو زده کړو په تاريخ کې بې سارې ده.

هغه دغه راز زياته کړه او ويې ويل: «د اميرالمومنين صاحب حفظه الله په لارښوونه ټولو امارتي ادارو ته دنده سپارل شوې، چې د خپلو ادارو په خالي بستونو کې د هېواد د تحصيلي بنسټونو فارغان جذب کړي.»

همدارنګه د لوړو زده کړو سرپرست وزير له محصلانو وغوښتل چې په شوق او لېوالتيا سره خپلو زده کړو ته توجه وکړي او د خپلو ديني او ملي ارزښتونو د ساتنې ترڅنګ د کوربه هېواد قوانينو، مقرراتو او فرهنګي ارزښتونو ته هم پاملرنه وکړي او د خپل هېواد ښه استازيتوب وکړي.

په پای کې يادو محصلينو د لوړو زده کړو د سرپرست وزير له سفر څخه د خوښۍ په څرګندولو سره خپلې يو لړ غوښتنې، وړانديزونه او ستونزې ورسره شريکې کړې، چې د هغه له لوري د افغان سفارت او د لوړو زده کړو وزارت د بهرنيو اړيکو او بورسونو د تنظيم رياست مسؤلينو ته لارښوونه وشوه، چې د دوی د ستونزو د حل لپاره عاجل اقدامات وکړي.

د يادولو وړ ده چې د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي ندا محمد نديم د اسلامي امارت لوړ پوړي پلاوي په ملتيا د روانې اونۍ د شنبې په ورځ د لوړو زده کړو او پوهنې وزيرانو په دويم نړيوال کنفرانس کې د ګډون په موخه د فدراتيف روسيې د تاتارستان هېواد کازان ښار ته سفر کړی، چې په ياد کنفرانس کې به وينا هم وکړي.

۱۴۴۵ هـ ق د ذوالحجة الحرام ۳ مه/ ۱۴۰۳ هـ ش د جوزا ۲۱ مه
۲۰۲۴ م د جون ۱۰ مه



# سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دومین کنفرانس بین المللی وزیران تحصیلات عالی و معارف سخنرانی کرد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دومین کنفرانس بین المللی وزیران تحصیلات عالی و معارف که در شهر کازان کشور تاتارستان فدراتیف روسیه دایر شد، سخنرانی کرد.

هدف از برگزاری کنفرانس یاد شده ایجاد روحیه همکاری های علمی میان کشور های عضو، ایجاد برنامه های مشترک اکادمیک در آینده، استفاده از تجارب یک دیگر و حل مشکلات موجود می باشد.

در این کنفرانس شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصلات عالی در حالیکه مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف نیز حضورداشت، در رابطه به نظام تحصیلی افغانستان و موضوعات دیگر معلومات ارایه نموده گفت که ا.ا.ا متعهد به پیشرفت علم و رقابت با منطقه و جهان در این زمینه می باشد.

وی اضافه نموده گفت: «کشور ما پس از حاکمیت ا.ا.ا، علاوه بر عرصه های سیاسی و اقتصادی در عرصه تحصیلات عالی نیز پیشرفت های زیادی داشته است، به عنوان مثال می توان، بازنگری۱۳۱ نصاب تحصیلی، تکمیل ۱۴پروژه بزرگ زیربنایی و موجودیت حدود ۵۰۰ هزار محصل در نهادهای تحصیلی افغانستان را یاد کرد.»

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان در ادامه صحبت های خویش به مبارزات مردم افغانستان علیه متجاوزین اشاره کرده گفت: «افغانستان همیشه مورد تجاوز دیگران قرار گرفته است و زیان های به آن وارد شده است. ا.ا.ا هیچ گاهی در امورات داخلی دیگران مداخله ننموده و از دیگران نیز توقع مشابه را دارد.» موصوف اظهارداشت که ما همیشه در مقابل همه حلقات مخرب مبارزه کرده ایم و خواهیم کرد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در پایان صحبت های شان از وزیران تحصیلات عالی و معارف کشور های اشتراک کننده در دومین کنفرانس بین المللی یاد شده که در شهر کازان کشور تاتارستان فدراتیف روسیه برگزار گردید، خواست که با افغانستان تفاهمنامه های همکاری های مشترک را امضاء و عملی نمایند تا از تجارب یک دیگر استفاده صورت گیرد.

قابل ذکر است که در کنفرانس بین المللی وزیران تحصیلات عالی و معارف، ۴۲ کشور عضویت دارد که همه ساله در شهر کازان کشور تاتارستان فدراتیف روسیه برگزار می گردد.

۴ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۵ هـ ق/ ۲۲ جوزا ۱۴۰۳ هـ ش

۱۱ جون ۲۰۲۴م

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د تاتارستان هېواد د کازان ښار له پولي تخنیک پوهنتون څخه لیدنه وکړه




د لوړو زده کړو او پوهنې سرپرست وزیرانو د فدراتیف روسیې د لوړو زده کړو او پوهنې وزیرانو دویمې نړیوالې ناستې په څنډه کې، د تاتارستان هېواد د کازان ښار له پولي تخنیک پوهنتون څخه لیدنه وکړه.

په پیل کې د لوړو زده کړو او پوهنې سرپرست وزیرانو او ورسره مل پلاوي د کازان ښار د پولي تخنیک پوهنتون له مشرتابه سره ناسته وکړه او وروسته یې د دغه پوهنتون له څېړنیزو مرکزونو، ټولګیو، لابراتوارونو او لیلیې څخه لیدنه وکړه.

د لوړو زده کړو او پوهنې سرپرست وزیرانو د یاد پوهنتون له مشرتابه سره د لیدنې پر مهال له هغوی څخه وغوښتل چې په تخنیکي برخو کې له افغانستان سره همکاری وکړي او خپلې تجربې ورسره شریکې کړي.

دغه ناسته چې ۴۲ هېوادونه یې غړیتوب لري او هر کال د فدراتیف روسیې په تاتارستان هېواد کې جوړیږي، موخه یې د غړو هېوادونو تر منځ د ګډو علمي همکاریو ایجاد، په راتلونکي کې د ګډو اکاډمیکو پروګرامونو جوړول او د یو بل له تجربو څخه ګټه اخیستل او په علمي ډګر کې د شته ستونزو پر وړاندې مبارزه ده.

۱۴۴۵هـ.ق، د ذوالحجې ۵مه/ ۱۴۰۳هـ.ش، د جوزا ۲۳مه
۲۰۲۴ م، د جون ۱۲مه

# دویمه برخه

# د معینانو د سفرونو، غونډو او لیدنو راپورونه


ورکشاپ سه روزه برای معاونان علمی و تحقیقات به پایان رسید ........ ۲۵
علمي معین د یوناما له مرستیال او د یونسکو له سرپرستې سره وکتل ........ ۲۵
لوړو زده کړو وزارت تحصیلي بنسټونه وستایل ........ ۲٦
معین علمی طرح پوهنتون خصوصی جامی را استماع کرد ........ ۲۷
علمي معین د ازموینو ملي ادارې له استازي سره ناسته وکړه ........ ۲۷
معین علمی با سفیر افغانستان مقیم امارات متحده عربی دیدار کرد ........ ۲۸
د اسلامي علومو څېړنو او د علمي مقالو لیکلو په اړه سمینار جوړ شو ........ ۲۸
د ٦۰ تنو امارتي پوهنتونونو استادانو لپاره ۵ ورځنی ورکشاپ دایر شو ........ ۲۹
معین علمی با نماینده سازمان جنرل آجندا دیدار کرد ........ ۲۹
د لس عنوانه نویو چاپ شویو علمي او پوهنتوني کتابونو مخکتنه وشوه ........ ۳۰
معین علمی از پوهنتون پکتیا دیدن کرد ........ ۳۱
جلسه شورای معینیت علمی دایر شد ........ ۳۲
علمي معین د تحصیلي بنسټونو د علمي او څېړنو مرستیالانو سره ناسته وکړه ........ ۳۲
معین علمی طرح موسسه تحصیلات عالی التقوا را استماع کرد ........ ۳۲
علمي معین د ازبیکستان هېواد له سفیر سره وکتل ........ ۳۳
جلسه شورای معینیت علمی دایر گردید ........ ۳۳
مالی او اداری معین د روغتیا نړیوال سازمان د بهرنی ځانګې له مشر سره وکتل ........ ۳٤
معین مالی و اداری برای کارمندان این وزارت صحبت های اصلاحی کرد ........ ۳٤
سمینار سه روزه تحت نام تنظیم مناسبات امور کاری کارکنان با اداره دایر شد ........ ۳۵
معین مالی و اداری با نماینده گان شرکت مخابراتی افغان بیسیم دیدار کرد ........ ۳۵
معین مالی و اداری از بخش های مختلف پوهنتون سید جمال الدین افغانی دیدار کرد ........ ۳٦
د لوړو زده کړو او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارتونو تر منځ خلور بېلا بېل هوکړه لیکونه لاسلیک شول ........ ۳۷
تیم تخنیکی شرکت مخابراتی افغان بیسیم در مورد تفاهمنامه با وزارت تحصیلات عالی معلومات داد ........ ۳۸
د برېښنايي لېږد رالېږ سیسټم په اړه ورکشاپ ورکړل شو ........ ۳۹
د معلوماتي او مدیریتي سیسټم (HEMIS) په اړه څلور ورځنی روزنیز ورکشاپ پیل شو ........ ٤۰

# ورکشاپ سه روزه برای معاونان علمی و تحقیقات به پایان رسید

ورکشاپ سه روزه زیر عنوان (تحقیقات و نوآوری) برای معاونان علمی و تحقیقات نهاد های تحصیلی امارتی به پایان رسید.

این ورکشاپ به ابتکار ریاست تحقیق، تالیف و ترجمه وزارت تحصیلات عالی دایر شده که در آن روی چگونگی تفکیک لاحیه وظایف بین معاونان یاد شده، چگونگی تجهیز کتاب خانه و لابراتوار در نهاد های تحصیلی، پلان های کاری، مشخص سازی بودجه برای تحقیق، تقسیم وظایف، ترتیب تشکیلات معاونیت تحقیقات و رشد تحقیقات علمی در کشور بحث گردید.

در برنامه ختم این ورکشاپ، دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی ضمن قدردانی از اشتراک کننده گان، راجع به اهمیت و دستآورد های این ورکشاپ صحبت کرد.

سپس دوکتور حمیدالله مزمل رئیس تحقیق، تالیف و ترجمه وزارت تحصیلات عالی برعلاوه جمع بندی نظریات کمیته ها از تمام آنان قدردانی نمود.

پس از حاکمیت امارت اسلامی در کشور روی تحقیقات علمی توجه خاص صورت گرفته و در ۲۵ پوهنتون کشور معاونیت های تحقیق ایجاد شده است.

۱۴۴۵/۹/۱۷ هـ ق ۱۴۰۳/۱/۸ هـ ش ۲۰۲۴/۳/۲۷ م

# علمي معین د یوناما له مرستیال او د یونسکو له سرپرستې سره وکتل

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین په خپل کاري دفتر کې، په افغانستان کې د یوناما له مرستیال او د یونسکو له سرپرستې سره وکتل .

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه یادو استازو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د لوړو زده کړو وزارت روانو چارو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل چې موږ له خپلې بودیجې څخه علمي، زیربنایي او د محصلانو چارې په ښه ډول روانې کړې دي .

نوموړي له یادو استازو څخه د طبي او نورو تحصیلي لابراتوارونو په برخه کې د مسلکي اشخاصو روزنې، د انلاین زده کړو ترینګ، په هند او مالیزیا هیوادونو کې په زده کړو بوخت استادانو ته د معاشاتو د لېږد ستونزې حل او همدارنګه په هند کې د افغان استادانو او محصلینو د ویزو ستونزې شریکې کړې او له هغوی څخه یې د همکارۍ غوښتنه وکړه .

په افغانستان کې د یوناما مرستیال اندریکا راتوتي او د یونسکو سرپرستې پتریشیا ام سي پلفس په خپلو خبرو کې د افغانستان له تحصیلي نظام سره مرستې ته تیاری وښود او زیاته یې کړه چې یادې ستونزې به له اړوندو جهتونو سره شریکې کړي .

دغه راز د یوناما مرستیال د افغان مهاجرینو د زده کړو په اړه اندېښنه څرګنده کړه، چې علمي معین یې د اندېښنې په ځواب کې وویل چې موږ د مهاجرینو استادانو ته په اړونده برخه کې د تدریس او محصلینو ته په اړوندو پوهنځیو کې د زده کړو زمینه برابروو او عملاً مو اعلان ورته کړی دی .

۱۴۴۵/۹/۱۸ هـ ق ۱۴۰۳/۱/۹ هـ ش ۲۰۲۴/۳/۲۸ م

# لوړو زده کړو وزارت تحصيلي بنسټونه وستايل




لـوړو زده کـړو وزارت د يـوې غونـډې پـه تـرڅ کـې هغـه امـارتي او خصـوصي تحصـيلي بنسـټونه وسـتايل چـې د تضمين کيفيت درېيم پړاو سند يې تـر لاسـه او يـا يـې دغه سند ساتلی و.

پـه يـاد غونـډه کـې د لـوړو زده کـړو وزارت علمـي معـين دوکتور لطف الله خيرخواه، په داسې حال کې چې د مرکـزي ادارو يـو شـمېر رئيسـانو، د امـارتي او خصـوصي تحصـيلي بنسـټونو مسـؤلينو او اسـتازو هـم حضـور درلـود، يـادو تحصـيلي بنسـټونو تـه د اعتبـار سـند تـر لاسه کولو او ساتلو مبارکي ووېله.

نومـوړي زياتـه کـړه چـې د اعتبـار ورکولـو سـند تـر لاسـه کـول او سـاتل د تحصـيلي بنسـټونو مسـؤليت زيـاتوي، چې تر پخوا ډېر کار او زيار ته اړتيا لري.

د لـوړو زده کـړو وزارت علمـي معـين پـر يـادي پروسـې ټينګـار وکـړ او ويـې ويـل: «د شـويو څېړنـو پـر اسـاس؛ پـه تحصـيلي بنسـټونو کـې د تضـمين کيفيـت پروسـې پـلي کولـو پـه علمـي، څېړنيـزو، تدريسي- او زېربنـايي چـارو کـې مثبـت بدلونونـه راوسـتلي دي.» هغـه وويـل چـې لـوړو زده کـړو وزارت بـه لـه ټولـو هغـو پوهنتونونـو سره همکـاري وکـړي، چـې لا دغـې پروسـې تـه نـه دي شـامل شوي.

وروسـته د لـوړو زده کـړو وزارت د تضـمين کيفيـت او اعتبـار ورکولـو رئـيس اسـتاد شـاکر وحيـدي وويـل هغـه پوهنتونونـه چـې پخـوا يـې د اعتبـار سند تـر لاسـه کـړی، د خپـل اعتبـار سـاتلو تـر څنـګ يـې ښـه پرمختګونـه کړي، چې يوه ستره لاسته راوړنه ده.

نومـوړي د خپلـو خبـرو پـر دوام زياتـه کـړه؛ لـه دوو کلونـو زياتـه وخـت کېـږي، چـې د هېـواد تحصـيلي بنسـټونه د کيفيـت لـه پلـوه پـر ښـه لـوري روان دي او پـه دې برخـه کـې د لـوړو زده کـړو وزارت لـه لـوري د اسـانتياوو برابرول هم د يادونې وړ دي.

همدارنګه په ياد محفل کې د امارتي او خصوصي تحصيلي تحصـيلي بنسـټونو مسـؤلينو د لوړو زده کړو وزارت تضمين کيفيت رياسـت او بورډ غړو څخه د مننې تر څنګ، د هېواد تحصيلي بنسټونو په ځان بسـياينه، کيفيت لوړنه او د علم په توليد کې د تضمين کيفيت پروسې پر ګټو خبرې وکړې.

دغه راز يو لړ وړانديزونه او سـتونزې يې له لوړو زده کړو وزارت سره شريکې کړې.

پـه پـای کـې هغـو پوهنتونونـو تـه چـې د اعتبـار سـند يـې سـاتلی و سـتاينليکونه او هغـو تـه چـې نـوی يـې دغـه سند لاسته راوړي و، د اعتبار سندونه روکړل شول.

۱۴۴۵/۹/۲۸ هـ ق ۱۴۰۳/۱/۱۹ هـ ش ۲۰۲۴/۴/۷ م

# معین علمی طرح پوهنتون خصوصی جامی را استماع کرد

معین علمی وزارت تحصیلات عالی طرح پیشنهادی ایجاد کنفرانس علمی-تحقیقی برای تضمین کیفیت را از نماینده گان پوهنتون خصوصی جامی استماع کرد.

عتیق الله رحیمی معاون علمی پوهنتون خصوصی جامی در حال که رییس تحقیق، تالیف و ترجمه، رییس تضمین کیفیت و اعتبار دهی و مشاور معینیت علمی نیز حضور داشتند، طرح پیشنهادی از سوی این پوهنتون در رابطه به پروسه تضمین کیفیت برای ایجاد کنفرانس علمی – تحقیقی را به دوکتور لطف الله خیر خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی ارایه کرد.

معین علمی وزارت تحصیلات عالی این اقدام پوهنتون یاد شده را ستایش کرده، از هر نوع همکاری برای برگزاری این کنفرانس اطمینان داده،




و در رابطه به برگزاری بهتر این کنفرانس، مشوره ها و پیشنهادات خویش را با آنان شریک ساخت.

قابل یاد آوری است که وزارت تحصیلات عالی پیش از این نیز کنفرانس های ملی و بین المللی را در سطح پوهنتون های امارتی به راه انداخته است و پوهنتون خصوصی جامی یگانه پوهنتونی است که به هدف انکشاف تحقیقات علمی اقدام به برگزاری این چنین کنفرانس کرده است.

مورخ: ۸/۱۰/۱۴۴۵ هـ.ق ۲۹/۱/۱۴۰۳ هـ.ش ۱۷/۴/۲۰۲۴م

# علمي معین د ازموینو ملي اداري له استازي سره ناسته وکړه

د لوړو زده کړو وزارت علمي او محصلانو چارو معین صاحبانو د ۱۴۰۳هــ.ش کال کانکور د خرنګوالي په اړه د ازموینو ملي اداري له استازي سره د همغږۍ ناسته وکړه .

